۹

# د زرغونې د عصر سياسي او اجتماعي جوله

زرغونه مور تش د محمد هوتك د لندي يادوني څخه چي په پټه خزانه كښې يې كړې ده پېژنو، كه ددې مؤلف دغه يادونه نه واى نو به د پښتنو مېرمنو د تاريخ او ادبي آثارو يوه كړى دغسې پرېكړې او ناپېيلي پاته واى.

د زرغونې عصر د ۹۰۰ هـ ق شا وخوا دافغانستان په تاريخ كښې يو داسي وخت دى چي د هرات د تېموريانو د برم او تكړه والي دوره پر ختمېدو وه او مملكت له مركزي تكړه حكومته څخه تش و. له شماله اوختيځ او لوېديځ له خوا د صفويانو او ازبكانو او لوديانو پاچهى پخپل قوت كښې وې، او هرچا غوښته چي په بلخ ، كابل ، كندهار او هرات كښې خپل قدرت پر پښو ودروي او ددې بې خاوندي سيمي داقتدار واگي خپل لاس ته راولي. د تېموريانو وروستنى مقتدر پاچا سلطان حسين بايقرا پسله ۳۹ كاله پاچهي د ۹۱۱ هـ ق كال دلوي اختر دمياشتي په يوولسمه (۱۵۰۵ م) په هرات كښې مړ او ښخ سو، اودده په مرگ دهرات غښتلى مركزي دولت چي سياسي او علمي او هنري نفوذ يې له جنوبي هندوستانه تر استانبوله رسېدى، خوارځواكى سو، دهرات شاهزادگان لكه بديع الزمان او مظفر حسين ميرزا له خپله برمه ولوېدل.

او دشمال له پلوه د ماوراء النهر تکړه او بريالي پاچا شيباني خان اوزبک راوخوځېد چي دهرات ښکلی او ودان ښار چي هنر او علم او ادب روزن ځای وُ ونيسي. تيموري شاهزادګان چي دخپل ځان اوسلطنت د ساتني توان يي نه درلود دخپلو خزانو او هنري پانګو (کتابو) سره د لوېديځي سيمي عثماني سلطنت ته په ننواتو ورغلل.

د زرغوني د پيدا کېدو پر وخت چي د ۸۷۴ ق ۱۴۶۹ م کال شاوخوا ټاکل کيږي، د هرات له درباره نظام الدين احمد برلاس د کندهار حاکم وُ، چي هلته ياغي سو، او ميرزا محمدعمر چي يو تيموري شهزاده وُ دی يي ايل کی او پخپله يي د کندهار واګي په لاس کي ونيولې.

د هرات د تيمور يانو دولت چي د مؤرخ عبدالرزاق سمرقندي په قول (سلطنت خراسان) (۱) بلل کېدی يو داسي دُوَلت وُ، چي دفيوډالي نظام د تمرکز اولوړتيا او ارتوالي نخښه وه، قدرت او ثروت دلويو درباري فيوډالانو په لاس کښي وُ، هنر او پوهني اوادب ترقي کړې وه، لاسي صنعتواو اوحرفت او زراغت د عامو خلکو په منځ روزل کېدل، او د توليد د ټولو وسيلو تومنه او لاس ته راغلي محصولات بيرته د دربار او لويو فيوډالانو لاس ته ورغلل.

په داسي حال کښي د جنوبي افغانستان اوګرمسېر حکمراني امير ذوالنون ارغون د مير حسين زوی ( دبلوڅو په رواياتو کښي ذنو) ته رسېدلې وه، چي سلطان حسين بايقرا ده ته غور او غرجستان او زين داور هم سپارلي وه، يو تکړه واکمن وُ، چي دخپل عصر په فيوډالي نظام کښي يي غښتلی لاس درلود، او په کندهارکښي ئي د يوې مروجې فيوډالي کورنۍ ستي ټينګي کړي وې، او دهرات د شاهي کورنۍ سره يي خپلوي هم وکړه، په (۹۰۲ ق ۱۳۹۲ م) يي خپله لور شهزاده بديع



الزمان ته ور واده کړه او دخپل واک او حکومت لمن يي په بلوڅو او سند کښي ترخو اوبو پوري وغوړوله، کله چي پخپله زنو د ۹۱۳ ق په شاوخوا کښي دهرات دمحاصرې پروخت د شيباني خانه سره په جنګ کښي ووژه سو، نو يي دوه زامن شاه بېګ او محمد مقيم له سنده تر کابله د حکومت په کار کښي کله بريالي او کله تېنتېدوبان وو، څو چي په ۹۰۹ ق ۱۵۰۳ م کال بابر تر هندوکش راواوښت او کابل يي ځني ونيو، ترديې وروسته کندهار هم د خاليشک په جنګ کښي په ۹۱۳ ق کال دبابر لاس ته ورغی او دارغون زامن سند ته ولاړل او هلته يي د ارغونيه شاهي کورنۍ واک ټينګ کړ. (۲)

د فيوډالي نظام دا رشه ده چي داسي نظام خپلي جګي د قدرت څوکي ته ورسيږي نو د ثروت او اقتدار د تمرکز سره هنر، ادب فرهنګ هم څه نه څه وده کوي او کله کله په دغو ځانګو کښي ډېر تکړه پوهان هم راوزي. د زرغوني د ژوندانه ماحول داسي وُ چي لکه په هنر کښي لکه بهزاد او په علم او ادب کښي لکه جامي اوپه اداره او حکومت کښي لکه امير علي شېر نوايي غوندي رجال ژوندی وو، او زرغونه دکندهار دپنجوايي په يوه کلي کښي دعلم او ادب په يوه غوړېدلي چاپېر کښي پيدا سوه، دلته خوسياسي اوضاع د فيوډالي جنګو په سبب خړ پړ وو، مګر د ادب او پوهني او هنر د ودي لپاره زمينه لږ څه تياره وه، اودکندهار په يوه کلي کښي هم يوې ښځي کولای سوای چي په ادبي چارو کښي لاس ووهي، او دشيخ سعدي مشهور کتاب بوستان ولولي او هغه په خپله مورنۍ ژبه پښتو راواړوي.

بوستان د هغه وخت دادبي متونو څخه يو خوږ او ګټه وراخلاقي ا جتماعي متن وُ، چي تر ابتدائي زده کړو وروسته به د دری ژبي تکړه

ګوونکی وابه، او په رښتیا هم دغه کتاب د شرقي دری ادب یو شهکار ګڼل کېږي. د خراسان سلطنت دهرات په مرکزیت دهغه عصر یو غښتلی او ستر دولت و، چي په لمن کښي ئي هنر او ادب او پوهني او فرهنګي حرکتو ښه وده کړې وه، او حکمرانان ئي اکثر د سواد او پوهي او ذوق او هنري شعور خاوندان وو، کتابخانې ئي درلودې، مدرسې او خانګاهونه او مساجد آباد او له زده کوونکو ډك وو، شفاخانې، درس خانې، اومدرسې آبادي وې. په ښارو کښي ماڼي او ښکلي باغونه او دخلکو لپاره خیابانونه ودان وو. (۳)

د کتابو جوړولو او ښکلولو لپاره داسي انځور ګران او خطاطان راوتلي وه چي بیا ئي تراوسه ساری نه دی پیدا سوی. سلطان علي مشهدي، جعفر بایسنقري، میر علي هروي، دوست محمد کتابدار، د ډول ډول ښکلو خطو ماهران وو، بهزاد، قاسم علي محمدي او په لسو نور استادان د نقاشي، تذهیب، تجلید، مینیاتور په هنرونو کښي داسي استادان وو چي ددنیا په کتابسازي کښي یې شهکارونه تیارول، او داسي آثار ښني پاته دي، چي تراوسه لا هم د وداني (تعمیر) فن هم دوني ترقي کړې وه، چي د سمر قند او هرات او بلخ او مشهد مزارونه او مدرسې یې تراوسه لاهم د تماشا وړ آثار دي. او ددنیا په ښکلو ودانیو کښي شمېرل کېږي. ژبې او ادبیات هم په دې مساعد چاپېر کښي راغوړېدلي وو، د مولانا جامي ادبي تخلیقات په دری ژبه او دامیر شیر علي نوایي آثار په اوزبکي ژبه او په سوو نور ژبني او ادبي کتابونه په دری، عربی ددې عصر مشهورو پوهانو او شاعرانو کښله، او دغربي مورخانو په قول دا وخت په شرق کښي د هنر او ادب د "رسانس" دوره وه. په دې وخت کښي پر اسلامي خراساني فرهنګ باندي لس سدئ تیري سوي وې، او



په خراسان او نغښته منځنی آسیا کښي داسي یو مشترك فرهنك جوړ سوی و چي د ضبط وانتقال وسیلې ئې عربي او فارسي ژبي وې، نواسلامي، ایراني، ترکي، هندي او ځیني مغولي عناصر سره را غونډ سوي او ددې فرهنګ اډانه یې جوړه کړې وه.

عربی او فارسي ژبې اوس هغه ژبې نه وې چي دهجرت په لومړیو سدیو کښي وبل کېدې، په عربي‌معلومات ګرده سره رانغښتې سوې وه د فارسي ادب لمن هم دوني اواره سوې وه، چي له استانبوله تر کنګې پورې ئي نغښته سیمه نیولې وه، او دا ګرده خلك یې په یوه اسلامي خراساني فرهنګ پورې سره رانښلولي وه.

ددې زماني په آرت فرهنګ کښي د سترګورو او پوهندویانو مځې ته د عربی او فارسي داسي آرت ادبیات (لټریچر) پراته وه. چي دهغه وخت انساني پوهنو هرخه ئي درلودل، په اجتماعي او اخلاقي لحاظ د اسلامي علومو یوه بشپړه مجموعه ددې مشترك او بین الاقوامي فرهنګ برخه وه، چي د هجري لسمي پېړۍ ددې سیمي خلك په دغه ښکلي اوبشپړ سوي ارزښت فرهنګېدلي وه.

زرغونه پښتنه هنر وره ددې دورې یوه روزلې او د فرهنګ خاوند مبرمن وه، په دری ادب پوهه او دپښتو شاعره اودښه خط یوه هنرمنده کښونکې ده چي د محمد هوتك په قول (کاتبانو به ډډې د حسن خطه اقسام د خط زده کول، او خپل ترجمه کړی پښتو بوستان اونور اشعار یې په ښه خط کښلي وه، چي ملغلرو یې خط ته عاجزې کوله) (۴)

دا هم باید دلته زیاته کو چي د زرغوني د ژوندانه د عصر د درو کورنیو شاهان او واکداران ګرده د هنر اوادب خاوندان او روزونکي وه، د هرات تېموریان اکثره هنرمندان، شاعران، لیکوال او دښه ذوق خاوندان

وه، دکندهار او سند ارغونيانو هم د هنر او ادب په پاللو کښې لنډ لاس نه درلود. بيا چې بابر په ۹۱۰ ق له پرغاني راغـی او کابـل اوکنـدهار ئـې ونيول، دا شهزاده هم اديب، ليکـوال، دشـعراوادب او هنـر شـوقي و. دې واکمنو د جنگي کارنامو او فيوډالي ژوندانه سره سره هنر او ادب اوعلـم هم روزه، دهنرمندانواو شاعرانو قدر ئې کاوه، نـو کـه پـه داسـي چاپېر کښې د زرغوني ادبي تخليقات دخپلې مورنۍ ژبې لپاره تاکل سـوي وي دا د عصر يوه طبيعي اغيزه ده.

د افسوس ځای دی چې د زرغوني دپښتو بوستانه څخه مونږ تش يوه توته لرو، او نوري د گلو گېډۍ ئې ورکې دي، خو دغه يوه توته هـم ددې شاعري مېرمني ادبي ذوق او د قريحې تکړه توب ښکاره کوي، دې د شيخ اجل سعدي (رح) د حکايت مطلب او محتوی په داسي ډول پخپله ژبه را اړولې ده اودلنډ مثنوي په سبك يې پيېلې ده چې د پښتو ژبې ادبي، بياني او بديعي خصايص ئې دلاسه نه دي ايستلي.

حضرت سعدي د خپلې ژبې په ادبي وسعت کښې يو اخلاقي مطلب داسي رانغښتی دی :

بزرگي به ناموس به گفتار نيست
بلندی بد عوي وپنـــــدار نسيت

زرغونه هم دغه عالي موضوع د پښتو ژبې دبياني ښېگڼو سره داسي رالنډوي :

لويي تل په گفتار نه ده
لــو خبره په کار نه ده

" لو خبره" د کندهار په پښتو کښې اصطلاحاً ( تکبـر او غـرور او بېځايه ځانځاني" ده.



رښتيا هم داده، هغه څوك چې تش په خبـرو ځـان لويـوي او غټـې دعوې کوي، اوعملاً څه پـه لاس کښـې نـه لـري، داسـي څـوك نـو پـه اجتماعي لحاظ سپك وي، او په تشو غټو خبرو نه درنيږي.(۵)

---

لمن ليکونه :

۱. وگورئ : مطلع سعدين
۲. وگورئ : تاريخ سند او حبيب السير او بابرنامه.
۳. وگورئ : مطلع سعدين، حبيب السير او خلاصه الاخبار.
۴. پټه خزانه ۲۹۲ مخ.
۵. د زرغوني ياد د افغانستان دعلومو اکاډيمي د پښتو څېړنو بـين المللي مرکز، ص ۱